دکتور فاروق اعظم

# غیرتمنه مور او بیغیرته زامن

یوه ډېره ښکلې، دنګه او پاکلمنې پیغله په تنکۍ ځوانۍ کې یوه ښکلي، شتمن او باتور ځوان ته واده سوه. له قسمته ځوان ومړ او پرځای یې څلور کوچني زامن پاته سوه. مور به یې شپه او ورځ پر تېرېده او په سل تکلیفه یې هغوې د تربرونو، ګاونډیانو او پردو د بدو نیتونو څخه خوندي ساتل. دا څه اسانه کار نه وو. ځوانه کونډه ویرېده چې د مرحوم میړه د ورپاته سوي جایداد په خاطر دا خپله هم څوک په زور عورته نکړي او زامن یې څوک ونه تښتوي او یا یې مړه نکړي. زامن به یې بیده وه خو دې به کرۍ شپه توره په لاس پیره پرکول؛ هم به یې ځان ساته او هم به یې زامن. جایداد ورڅخه شاړ پاته سو؛ داځکه د کار څوک یې نه وه او پدې ترتیب په دارائي کې ناداره او په هستي کې نیستمنه وه. خو ښځه خوشحاله وه چې زامن به یې خدای لوی کړي، هرڅه به بیرته سم سی او پخوانی برم به یې اعاده سی.

ورځې، شپې او کلونه په ډېر تکلیف تیریدل. دوه مشران زامن یې چې څه غټ سول نو مور به دا یو د نژدې کلي خان کره کله کله استاوه او هغه بل به یې د لیرې کلي خان کره چې مرحوم سړی یې پخوانۍ څه دوستي هم ورسره وه لیږه چې هلته خلک ووینې، سترګې ولغړوي او په هوسائي د یوې ګولۍ ډوډۍ د پیدا کیدو هنر او په دنیا کې د کامیاب اوسیدلو چل زده کړي. دهلکانو زړونه خپل خوار ژوند او د مور بیوسۍ ټکولی وه؛ دخانانو کورونه ورته غنیمت ښکاریدل. دواړه زامن ځوانان سول او دمخه تردې چې د خانانو څخه په لږ کار د ډیري ګټې هنر او د نورو سره د معاملې چل زده کړي، د هغوی د کورونو ښکلا او دهغوی د لوڼو اداء یې زړونه یووړه. دهلکانو عشق دی. خانانو ته یې ځانونه د چشمان آبی او موهای طلائی سره د وصل په هیله ورنژدې کړه. خانان چې له پخوا ددوی مور، کور او دارائي ته غله وه، له خدایه دا موقع غوښته. ځوانانو ته یې ددام دانې وشیندلې.

د نژدې کلي خان د لیرې کلي دخان په نسبت ډیر د خپل میلمه ځوان او د هغه د مور او کور سره دلچسپي درلوده؛ ځوان ته یې د مهربانۍ او مرستې لاس ورکړ. دواړه

ترپخوا ډیر سره نژدې سول. هریوه دا نژدیوالۍ پخپله ګټه ګاڼه خو ګټې سره بیلې وې؛ ځوان خام وو او خان پوخ. ګټې هم په دغو کاڼو تللې کیدې.

خان وار دمخه کړ او د هلک څخه یې دده د مور د نکاح غوښتنه وکړه. ځوان چې د خان لور ته ډکی ایله کړیوې د مور په خرڅولو بیله دې چې کومه خاصه نا آرامي احساس کړي راضي سو. مورته چې دا وخت لا ځوانه وه خو غمونو سره اچولې وه ورغی او هغه یې تشویق کړه چې خان ته ځان په نکاح ورکړي چې هم به ددې ژوند سم سی او هم به یې د اولاد. مورته یې دا خبره د مرګي ټک وو. هغې د نژدې کلي خان پیژاند چې زوړ، مکار، ظالم، بیدینه او خونخوار وو او خدای بخښلي سړی یې سخت جنګونه ورسره کړیوه. خو زوی یې ډیر عذرونه ورته وکړه چې خان اوس هغه پخواني خان ندی. اوس ډیر ښه سړی سویدی. په کلي کی د خوارانو سره مرستې کوي.... مور یې نه قانع کیده. زوی به یې ورته ویل چې که ته خان ته واده سی نو زموږ د ټولو دا خواري او بیوسی به ختمه سی. اوس چې کور، کالي او ډوډۍ سم نه رارسیږي د هغه په غیږ کی به د هرڅه مفت څښتنان سو او پدې دنیا کی به جنتونه ګورو. خو مور یې ویل چې ستا پلار دا خان پیژاند چې بیدینه او بی ناموسه دی. زموږ خواته یې کتای نسوای اوس ته ما دهغه د پښو عورته کوې؟ ویې ژړل چې زویه اوس به دا پلیت ستا د باتور پلار پرځای زما سره په یو بسترکی وي. زوی یې کوښښ کاوه چې د مور د محبت پر هغو رګونو ګوتې کښیږدی چې زوی تر هرشي ورتیر وو. خو مور نه رضا کیده. هغې ورته ویل: ما کلونه په ډیر محرومیت کی پدې طمعه تیر کړل چې خدای به تا را لوی کړي او د پلار ځای به ونیسی خو افسوس چې اوس ته دهغه عزت، نوم او ناموس خرڅوې. زوی یې په قهر سو چې عزت، ناموس، اخلاق، تاریخ او دپلار ونیکه نوم دا پخواني زړې پدیدې دي چې نور په درد نه خوري؛ دنیا پر مخ روانه ده او موږ شاته زوړ وهو. دخان ددوستۍ سره به مو ورځ ښه سی؛ پیشرفت به وکړو. مور یې په ژړا کی ورته ویل: کاشکی می شیدی تا بیغرت ته نه وای درکړي او ځیني ګوښه سوه.

ځوان د خان د کور د زرق وبرق او ښکلو لوڼو د دیدار په قلنګ کی تر مور تیر وو خو مور یې ځان خان ته نه تسلیماوه. کله چې زوی ته یې خان وویل چې خبره څنګه سوه؟

نو ځوان ورته وویل چې هغه جاهله په رضاء نه حاضریږي؛ زور ورسره چلول په کار دی. ځوان په شپه کې خان خپل کورته راوست؛ مور یې لاس تړلې خان ته تسلیم کړه. ځوان خوښ وو چې خان یې خپل کړ او اوس به نو د هغه له لاري خپل مراد ته رسیږي. هغه دا کوښښ هم کاوه چې نور ورونه قانع کړي چې ده ښه وکړه چې مور یې خان ته په لاس ورکړه.

خان چې هدف ته ورسید او د ځوان کور، جایداد او مور یې تر خپلې سینې لاندې کړل نو پخپلو نوکرانو یې د ځوان په ترټلو او وهلو پیل وکړ؛ خپله ده ته یې د غویو په پاده کې ځای ورکړ او ورونه یې له کوره وروشړل. دوهم وروړ چې د لیرې کلي د خان د کور لاریې لا پخوا لیدلې وه او خوبونه یې لیدل چې کله به یې بیا وصال په نصیب سي، په بیړه هغه لورته وتښتید او دوه کوچني ورونه یې ګاونډیانو او لیرې او نژدې تربرو ته پریښوول. هغه ځوان چې په کور کې د مور د میړه سره پاته وو، ترڅه وخته دا ټولې ناخوالې د خان د لوږو په توزنه هیله قبلول خو کرار کرار یې ټول ارمانونه چې ډیر وخت یې کرلي او ریبلي وه د خاورو سره خاوري سول. هم یې کور ولاړ، هم یې مور.

کلونه تیر سول او پرځوان بیغیرته ژوند د مور د میړه سره پخپل کور کې د سرټیپو کې مرئي په حیث تیریدی. د ځوان هغه بل وروړ چې د لیرې کلي د خان سره وو، د مور د دغه بدحال څخه خبریدی خو د هغه کلي هوسا ژوند او ښکلې نجونې یې د مور د نجات لپاره نسوای پریښوولای او صرف وخت ناوخت به یې د تمساح اوښکې د مور پرحال تویولې او د مړې چوغکې پدغه قربانۍ به یې ځان تسکیناوه.

د ځوان دریم وروړ چې هغه هم په نژدې یو ګاونډۍ هیواد کې مساپر او سیدی او ځوان سوی وو، ناڅاپه د شپې د وسلې سره راغی او پر خان یې چې د مور سره یې پر کټ پروت وو کاري ګوزار وکړ. جنګ سو. مشر وروړ یې د خان په طرفداري د کشر وروړ سره خپړې ولګولې؛ زخمي هم سو خو کشر وروړ یې ډیر باعزمه او جنګی وو. تر خونړۍ مقاومت وروسته، خان مجبور سو کور ایله کړي او مات سر خپل کلي ته بیرته ولاړ سي. فاتح ځوان خپله مور په غیږ کې ونیول او وروړ یې هم عفو کړ. پدې ډول دوی بیرته کور او کهول سول.

فاتح ورور د ګاونډیانو ډېر شکرګذار وو چې د خان د ظلم څخه د مهاجرت په وختکې یې ده ته لاس ورکړی وو. مور او مشر ورور ته یې ویل چې زما سره ګاونډیانو ډېر ښه کړیدي، احسان یې باید ومنو او ښه راشه درشه ورسره وکړو (هل جزاء الإحسان إلالإحسان). دګاونډیانو سره تګ و راتګ پیل سو. دوی د هغوی کره او هغوی ددوی کره تلل او راتلل؛ مخ پټېږ یې په منځکی نه وو. دواړو ورونو غوښته چې پر خپلو مځکو او پټیو خپله کار وکړي چې له دغه لاري غله دانه او حلاله ګوله لاس ته راوړي. خو ګاونډیانو به هریوه له کوره غله او سامان دوی ته راوړل چې پر تاسی ډېر تکلیفونه تیر سویدی، څه آرام وکړی او په کراره به د کور او جایداد سمبالولو ته وررولاړ شی. مور او زامن یې د ګاونډیانو نور هم شکرګذار سول چې بی اسرې مرستی ورسره کوي. ځوانانو ته بي تکلیفه مرستو خوند ورکړ او بیکاری ته یې ډډې ورکړه. ګاونډیانو هر یوه یې په دې هیله چې دځوانانو جایداد ترلاسه کړي دوی ته مرسته او شیرینک ډېراوه. دوی غوښته چې دا ځوانان لټ آموخته کړي، کار ونکړي، جایداد شاړ ورڅخه پاته وي او تل یې دوی ته د احتیاج لاس اوږد وي. کله چې ګاونډیانو د ځوانانو څخه د کار قوت سلب کړ او په ځان یې متکی کړل نو پخپلو منځو کی یې دهغوی د جنګولو پلان جوړ کړ ترڅو پدې ډول دوی کمزوره او ورک سی، جایداد او مور یې دوی ته پاته سی. ګاونډیانو هر یوه یو ورور په غیږ کی ونیو او بل ورور ته یې ولمساوه. د ورونو په منځکی بدبینی ډېره سوه او ژر په دښمنی واوښته. ګاونډیانو هر یوه خپل پلوي ځوان ته وسله او پیسه ورکړه چې دهغه بل ورور سره وجنګیږي او مړ یې کړي. جنګونه پیل سول؛ کله دا ورور خوږ او کله هغه بل. چې کله به د کوم طرف د جنګ وسائل او خوراکه خلاصه سوه نو دهغه ملاتړي ګاونډي به خپل بچیان وړي پرېښوول خو ده ته به یې رس رساوه. مور به چې کله زامن په داسی حال کی ولیدل ورته وبه یې ژړل چې جنګونه مه کوی او د نورو فریب مه خوری. خو زامنو یې کله د مور منل. یوه ورځ یې مور سر ورته سرتور کړ چې ای زامنو، دا ګاونډیان ستاسی دوستان ندی؛ دا حریص دي او ستاسی جایداد ته غله دي. ای زړګیانو، زموږ ګاونډیان منافقان دی، درواغ درته وایې؛ ستاسی سره هیڅ اخلاص نلري. زه یې پیژنم؛ ما او ستاسی مرحوم پلار په وار وار تجربه کړیدی، ډېر نامرد دي او په

مسلمانۍ یې هم زه باور نکوم. مه کوی، اې زامنو، سد سرته درولی، له جنګه لاس واخلی، سره کښېنی او خپل ژوند په ګډه، سلا او ورورۍ سره جوړ کړي. خو زامنو یې مورته غوږ نه نیاوه. هغه بل په لیري کلی کی زوی یې هم د مور او کور پدغه خراب حالت خبریدی خو څرنګه چی د هغه ځای د سپیانو أنس او د پشیانو سره الفت یې د مور په خاطر نسوای پرېښوولای نو ځان یې داسی په کوڅۀ حسن چپ وهلی وو لکه په هیڅ چی نه وو خبر.

یوه ګاونډی فکر وکړ چی د ځوانانو مور لګیاده خپل زامن په حقایقو پوه کوی او زما له اودې او منتره یې باسی. نو دچارې په لټه کی سو. ځوان ته یې دده د مور څخه ګیله پیل کړه او هره ورځ به یې دهغی خرابۍ ورته ویلی او هغه به یې دده د بل ورور سره دده پخلاف په همکاري تورنول. په اول سر کی پر ځوان ډیر ښه نه لګیده خو څرنګه چی احتیاج وو څه یې نسوای ویلای. کرار کرار ځوان د مور په حق کی د بد اوریدو سره عادت سو. بله ورځ ګاونډي دده پر مور دهغه بل ګاونډي سره د نامشروع اړیکو تور ولګاوه. ځوان لږ خفه سو خو څه یې ونه ویل. دا تورونه ډیر سول او ګاونډی هغه له مختلفو لارو ځوان ته رسول. ځوان هم کرار کرار هغه قبول کړل او قانع سو چی مور یې بده ښځه ده. بله ورځ دغه ګاونډی و خپل ملګري ځوان ته وویل چی که غواړو هغه بل ګاونډی له صحنی وباسو او ستا سی مورته ددغه ظلم، ناروا او بی عزتۍ څخه نجات ورکړو نو اول باید موږ ستا مور خپله کړو. ځوان ویل داخو ډیره ښه ده. ګاونډې وویل چی زه ښځه لرم او بلی ته ضرورت نلرم خو ستاسی سره د مرستی او د هغه بل ګاونډې د مداخلی د قطع کیدو په خاطر ستا پر مور باید نکاح وتړم. داځکه دهغې سره په یوه کور کی بیله نکاح زما او سیدل شرعا روا ندي؛ نو مجبوریت دی چی دا په نکاح کړم او دهغه بل ګاونډی پښه ورلنډه کړم. ځوان تر لږ چرت وروسته رضا سو او وېویل چی داخو څه بده خبره نده. زما مور ځوانه ده، میړه ته ضرورت لري او ترتا ښه سړی به چیري پیدا کړي.

ځوان خپلی مورته د ګاونډي دا اراده ورسول. هغه ورته وویل چی موري زه دي په زوره هم ګاونډي ته ور په نکاح کولای سم خو چی پخپله بي جنجاله یې عورته سی

زموږ ټولو به په خیر وي. مور یې وژړل او د اولادونو د اصلاح او سر ته یې د سد د رسیدو دعاء وکړه. ځوان بیا مور ته عذر وکړ چې موري دا سړی میړه کړه؛ ته به هم آرامه سې او موږ به هم؛ دا ښه سړی دی او زما سره یې په جلا وطنۍ کې ډېر ښه کړیدي. خو مور یې کله قبلول او ګاونډي ته به یې ښرا کول چې تا خطا باسې. په دغه موضوع هغه بل ورور خبر سو او دغه راز یې د خپل ملاتړي ګاونډي سره شریک کړ. ګاونډي ورته وویل چې دمخه تردې چې هغه بل ګاونډی ستا پر مور نکاح وتړي زه یې پر تړم چې ددوی منصوبه ورشنډه کړو.

یوه شپه چې دواړه ځوانان پخپل کور کې د مور دواړو خواو ته پراته وه، ناڅاپه یو درز سو او مسلح، مول وهلی څو تنه بدمعاشان د ښځې سرته ودریدل او یو ږیرور سړي ته وویل سوه چې دغه ده پیدا مو کړه. د صاحب سره ددغه ښځې نکاح ور وتړه. ښځې ژړا او ناري کړې. یوه زوی یې فکر کاوه چې دا ولاړ مول وهلی صاحب دده ملګری ګاونډی دی او هغه بل فکر کاوه چې دده ملاتړی ګاونډی دی. دواړو زامنو مورته عذرونه پیل کړل چې هله ژر کوه، ځان او موږ مه بربادوه او د صاحب سره نکاح وتړه چې دا د ټولو په خیر ده. ښځې، صاحب ته ښکنځل او زامنو ته ښراوي کولې چې تف دی ستاسې پر غیرت سې. ای کاش لنګوټې مو نه وای تړلې. وشرمیږی. یو وار مو پر خان خرڅه کړم؛ اوس می پر ګاونډیانو خرڅوی. ښځې ژړل او ږیرور د نکاح خطبه ویل او تر مختصري دعاء ورسته مول وهلی صاحب دښځې د زامنو په مرسته و ښځې ته ورحمله کړه او د خوب په خونه یې چارغاوک ننه ایسته. ځوانان لا پوره د انګړ څخه نه وه لیري سوي او لا نه وه پوه سوی چې دا صاحب کوم ګاونډی وو چې بل ګاونډئ د څو مسلحو داړه مارو سره راغی او شاوخوا یې پروت وکړ، دوی یې محاصره او فیرونه یې پر وکړه. دهغه پخوانی صاحب ټول سړي یې خلع سلاح کړل او د ښځې په پوښتنه سو. هغه بل صاحب چې دا صحنه او زور ولید، بیله دې چې له نکاح څخه یې کوم خوند اخیستی وي، ښځه ایله کړه او په تیښته د کور د دیوال پر نخره واوښت.

دا بل ګاونډی صاحب د ښځې په تلاښ سو. هغه یې پیدا کړه او ورته وېویل چې زه زور نه کوم. خپل په رضا ووایه چې خپل نفس او مهر دی ماته رابخښلی دی. د ښځې هغه

پخوانی ژړا لا نه وه وچه سوې؛ په بوغارو سوه چې زه میړه نه کوم؛ اخیر زامن لرم. خو بیرته متوجه سوه چې زامن یې بیغیرته دي او پر زامنو ندي حساب. په ژړا یې ویل چې ای ظالمانو له خدایه وویریږی. په اسلام کی خو په زوره نکاح نسته هغه هم پر مظلومی کونډي. تاسی ولی د خدای له قهره نه ډاریږی؟ یوه ورځ خو به ددې عمل پو ښتنه در څخه کیږي. د زامنو څخه یوه مهاجم صاحب وپیژاند چې دده ملګری ګاونډی دي. نو مور ته په عذرو سو چې وو ایه صاحب زما میړه دی او خپل نفس او مهر می ده ته بخښلی دی. هغې انکار ته ادامه ورکړه. صاحب ملاوزمه سړې ته اشاره وکړه او هغه د نکاح په خطبه پیل وکړ او د صاحب سره یې د ښځی نکاح وتړل. صاحب ښځی ته ورحمله کړه چې په غیږ کی یې واخلی او ځای ته یې بوزي؛ زوی یې د مور پښې ورپسی پورته کړې چې وړل یې ګاونډي صاحب ته تکلیف نشی. څوک پوه نسو چې په دغه شیبه کی یو دم په صاحب څه وشوه. د هغه له لاسو څخه ښځه ایله سوه او خپله دی بیحاله ولوید. ملګري یې وارخطا سول او ژر یې هغه د ښځی له کوره ویوست او د طبیب په لټه کی یې خپل اصلی کورته بوت.

ښځه د زامنو سره سراسیمه پاته سوه. زامنو ته یې ښکنځل کول او د خپل قسمت څخه په ګیله یې ویل حسبی الله نعم الوکیل. شپه تر نیمائي تیره وه او د ښځی پرمخ لا د اوښکو لاري نه وې وچی سوی چې د لیري کلی خان چی دنژدې کلی د خان تربوروو د ډیرو مسلح کسانو سره پر کور په دې بهانه یرغل وروړ چې د نژدې کلی خان مړ سو او دا ښځه ددوی کونډه ده. د لیري کلی خان چی د نژدې کلی د خان په تناسب ډیر زورور او مغرور وو د ښځی د هغه زوی په رویباری راغی چی دخان د اشپزخانی دلوښو د پریوللو او دهغه د کور د سپیانو د پاکولو د دندې د اجراء په افتخار یې کلونه کلونه خپله مور د غمونو په دوږخ کی یوازي پرې ایښې وه. لوی خان ویل چی دا ښځه زما د تربور کونډه ده او زه نکاح پر تړم. ورسره راغلي ځوان چی لوکسه دریشي یې کړې او غټه نیکټایی یې تړلې وه، د توافق د سر په ښوریدو خپل د رضائیت اظهار کاوه او مورته چی پسله ډیر وخته یې لیدلي وه د خواهش په ډول وویل چی څومره به ښه سی. ده وویل: موري! چی خان صاحب ستا نکاح کولو ته حاضر دی نو مور نور څه غواړې؟ دمور پرسادګی یې دتعجب سر ښوراوه او دځان سره یې ویل: دخان غوړي چی زموږ

پر کروتو توئیږي زموږ کرت لا ټرټر کوي. د ښځې دا نورو دوو زامنو فکر وکړ چې زموږ خولې اوس په غوږو کې سوه؛ هغه یو وروړ خو مو اسمان ته ختلی وو او موږ پر مځکه پاته وو؛ دادی موږ ته هم له نیکه بختنه چانس راورسید او لوی خان پخپله زموږ کورته راغی؛ باید له لاسه یې ورنکړو؛ موږ خو په هغه بل کوچنی خان لا قناعت کړی وو، داخو ترهغه ډیر لوی خان او ډیر زورور دی. که مو په خوب لیدلی وای چې لوی خان به زموږ پلندر کیږي، له خوشحالیه به مو زهره چاودلی وای.... ددې لپاره چې مور قانع کړي، نو یو وروړ دابل ته وکتل او ویویل چې وروره! که زموږ مور د مشرخان په نکاح کې سی نو نه یوازې به موږ میلی کوو بلکه د ګاونډیانو پښنه به هم راځخه لنډه وي. ستا خو یاد دي چې ګاونډیانو زموږ د مور سره پر نکاح سربیره څومره خرابه معامله کول. فورا دواړه زامن په یوه سلا خپل مورته په زاریو سول چې موري لاټری درته راوتلی ده؛ د موقع څخه استفاده وکړه؛ اوس لا د لوی خان توجه درته سویده؛ که نه، بیا به ټول ارمان کوو. د خان صاحب سره به ستا نکاح زموږ ټولو سرنوشت بدل کړي....

د ښځې څخه دکلونو د ورک زوی د راتلو خوشحالی هیره وه او په ژړا یې وویل: ای بیغیرتانو! یو وار مو پرهغه بل خان خرڅه کړم، بیا مو نامرده ګاونډیانو ته یو په بل پسی ور په نکاح کړم او اوس می پردغه شین سترګی ظالم خرڅوی؟ حیف ستاسی لنګوټوته چې ترلی مو دي. والله که یې میړه کړم چې د صور شپیلۍ پوف سی. خدای به می هغه بل زوی راولی. زما یقین دی هغه به تاسی غوندي بیغیرته او سپی نه وي؛ هغه به پر ما ننګ وکړي؛ اوریدلی می دی هغه زوی می اوس بچیان هم لري، ډیر سویدی. زه اوس نوره بیکسه نه یم. دوی به ټول راسی او ما به له دغه مصیبته خلاصه کړي. پدغه کشمکش کی شپه اخیرته رسیدلی وه او صبح صادق وو. ښځې پورته آسمان ته په ډیر عاجزۍ مخ ونیو او د زړه له تله یې لاس پورته کړ چې یا الله تاته هرڅه اسان دی؛ ستا د غیرتمن رسول په برکت زما عزت را خوندي کړه؛ ډیره وزوکلیدم نور می مه زهیروه او په اولادو کی می همت، خودي او غیرت پیدا کړه.

لوی خان او ملګرو یې ښځې ته لاس وا چاوه. د ښځې زامنو، په سر کې یې د خان سره راغلي روشنفکره زوی، بیله کوم تأمل او ځنډه د خان په ملاتړ د مور پښې د خان پرخوا ورپورته کړې او هغې ته یې تسکین ورکاوه چې موري مقاومت مه کوه په درد نه خوري؛ په مور ډیر څه نده جوړه؛ مور هیڅ شی نه یو؛ ځان او مور مه خواروه؛ نکاح ورسره وتړه چې دا د ټولو په خیر ده؛ دا طلائی موقع بیا نسته.... په همدغه وختکې چې د سهار سپیدو د شپې تور زړه چاودلی وو، له لیري د یو کاروان د راتلو جرس ترغوږو سو او ښځې ناري کړه: هغه دی اولادونه می راورسیدل. هغه دي راغلل. اوس به ستاسی چاره در وکړي. خان او ملګري یې وارخطا سول؛ یوې او بلی خواته یې د دیوالونو بیخو ته موضع ګانی ونیولی. د جرس آواز وار په وار رانژدې کیدی. د خان سره راغلی ملګري ډیر وارخطا سول او خان ته یې مشوره ورکړه چې پښې به سپکوو. خان پر ځای ولاړ او داسی یې ښکاره کول چې روحیات یې قوي دی. ملګرو یې یو په بل پسې میدان پریښود او پرخپله لار ولاړل. خان چې ولیدل چې یوازی پرمیدان پاته سو او کاروان هم قدم په قدم رانژدې کیږي نو دوی یې خپلی وې او دوې یې پور کړې او پدې بهانه چې تښتیدلی ملګري بیرته راولم له کوره ووت. د کاروان د جرس آواز وار په وار رانژدې کیدی او مور ته د نجات هیلی ډیریدې. د ښځې زامن د مور غیږ ته ورولویدل؛ ورته ویې ژړل او عفو یې ځینی وغوښته. هغې د یوسف علیه السلام کیسه ورپه یاد کړه چې ورونو یې څه ورسره وکړه خو هغه وبخښل او ورته ویویل: لاتثریب علیکم الیوم. یغفرالله لکم و هو ارحم الرحمین - زه تاسی نه ملامتوم. الله دي تاسی وبخښی؛ هغه تر ټولو مهربان دی.

کابل - دوشنبه دغبرګولی لسمه ۱۳۸۹ هـ ش